**(B)برخه د میوې د باغ(بڼ) منځته راوړل یا احیا کول**

**څلورم لوست یا درس: د میوو د ونو کښت او ساتنه.**

**د زده کونکو د زده کړي موخي یا هدفونه:**

زده کونکي به ددي لوست په پایله کي د لاندې موخو یا هدفونو سره اشنا شي:

١. دمیوو د ونو د کښت یا خښولو د څرنګوالی تشریح او روښانه کول.
٢. د هغه فعالیتونو یا کړنو تشریح کول چي په یوه باغ یا بڼ کي د میوو د ونو د څآرنې او ساتنې لپاره په کار وړل کیږي.

**د لوست ورکولو یا تدریس لپاره وړاندېز شوی وخت:** ٢ ساعته

**وړاندیز شوی منابع یا زیرمي:** لاندې منابع کولی شي چي په دي لوست یا درس کي ګټوري واقع شي:

- د کمپوټر په پاورپواینټ پروګرام کي هم ددي درس یا لوست پلان د ارائي لپاره آماده شوی دی.

**د سامانونو، وسایلو یا وسیلو، لوازمو او اسانتیاوو فهرست یا لړلیک**

د لیکلو په خاطر سپینه یا تشه ورقه یا صفحه

د پاورپواینټ د ارایي لپاره پراجکتور یا غټ ښودونکی

د پاورپواینټ سلایدونه یا صفحي
شفاف یا روښانه سلایدونه یا صفحي
د زده کونکو د لابراتوار د ورقو کاپي ګاني

د کښت یا کرنې لپاره د میوو وني یا نیالګي

**اصطلاح ګاني :**لاندې اصطلاح ګاني په دي لوست یا درس کي وړاندیز(ارایه) کیږي.( د بولډ او ایټالیک په قسم سره او د پاورپواینټ په دوهمه شمیره سلاید کي ښودل شوي دي)

- د پنډک زخه یا غوټه(bus scar)
- د میوو ږنګې کول (fruit thinning )
- د لیډر تغیر خوړلی سیستم د ښاخ پري کونې په برخه کي (modified –leader pruning system)
- د خالې یا تش مرکز د ښاخ پري کولو سیستم(open-center(visa) pruning system)
- له څوکې یا نوکې څخه د قاعدې په لوري د ښاخونو پري کول (Heading back (tipping) pruning )
- د قاعدې له لوری یا سمت څخه د ښاخ پري کول ( thinning- out prunning)
- د ځمکې لاندې ښاخ چي له ساقې یا ښرانګې یا هم له ریښې څخه نمو یا وده کوي (suckers or watersprouts)
- خاصیت میوه ګیری د میوې نیولو یامیوې کولو خاصیت (ځانګړتیا) (fruiting habit)

**په زړه پوری تګلاره** :له یوې په زړه پوری تګلارې څخه ګټه پورته تکړئ ترڅو چي زده کونکي د لوست د زده کړي لپاره اماده کړي. ښوونکی اکثره د خپلو ځانګړو ټولګیو لپاره د زده کونکو د شرایطو سره سم تګلاري تهیه او برابروي یا ترتیبوي. لاندې تګلاره کیدلی شي چي د یوې ممکنه تګلاري په ډول سره ورڅخه یادونه وکړل شي:

د زده کونکو لپاره هغه میوي وښایاست چي په افغانستان کي د میوو له ونو څخه ډیري عامي دي(مڼه، توت، او د ستروس کورنۍ میوه جات) لاس ته راغلي وي. د زده کونکو پوهه او زده کړه د د میوه جاتو یا میوو په برخه کي د سوالونو یا پوښتنو او مباحثې له لاري تعین کړئ. د میوه جاتو یا میوو د غذایي یا خوراکي ارزښت په برخه کي وینا وکړئ. میوي د ویټامي اA ، ویټامین سیC ، او ویټامین بې شپږ B6لپاره غوره او په زړه پوري میوي دي همدارنګه میوي د منرالي یا معدني موادو درلودونکي دي لکه پټاشیم، مګنیزیم، مس او اوسپنه او داسې په خپل ترکیب یا جوړښت کي لري. د میوه جاتو خوند لوړ دی او همدارنګه د غذایي یا خوراکي رژیم په برخه کي د مناسب فایبر، د سرطان د ننګونو د کموالی او د کلسترول(غوړو) کموالی هم مهیا یا برابروي. او همدارنګه د اقتصادي پلوه د میوو وني هم له ځانه څخه ښکاره کوي .

** دا فعالیت سرته ورسوئ ترڅو چي تاسې د لوست لومړی موخې ته داخل کړي.

**د محتویاتو خلاصه یا لنډیز او درسي ستراتیژي ګاني**

**لومړی موخه یا هدف:** دمیوو د ونو د کښت یا خښولو د څرنګوالی تشریح او روښانه کول.

**( د پاورپواینټ ۳ شمیره سلاید)**

۱. د میوو ونې (نیالګي) کیدلی شي چي په محلي یا ځآیي طریقي سره له زراعینو او یاهم له ګل کورونو څخه په لاس راوړل شي. او یا هم کیدلی شي چي چي د پست له لاري هغه تنظیم کړل شي او په لاس راوړل شي.

الف) هغه وني چي له د پست له لاري په لاس راځي، د لوڅو ریښو په شکل سره چي د پیټ او خزې په داخل کي(هغه خاوره چي عضوي مواد په خپل ځآن کي ولري) مرطوب یا لامده ډول سره بسته بندي شوي وي او پلورل کیږي.

۱.د نیالګیو په رسیدلو سره نوموړي نیالګي له بسته بندیو څخه خلاصیږي او د هغوي ریښي د تشت په داخل کي په اوبو کي ورته ځآی ورکول کیږي. د اوبو په داخل کي د ریښو ایښودل له دوه ورځو څخه باید چي زیات نه کړل شي.

الف) که چیري نیالګي په طولاني یا اوږده ډول سره زخیره یا زیرمه شي نو له تاو خوړلو سره مخامخ کیږي.

ب) هرکله چي د هوا او خاوري وضیعت یا حالت مساعد یا برابر شو، یوه کنده چي په کافي اندازې سره غټه وي ژوره کړئ ترڅو چي ریښي په طبیعي شکل سره د هغې په داخل کي ځای په ځآی شي.

۱. د نیالګې په کښت یا کرنې څخه دمخه د هغې ریښي د سطل د اوبو په داخل کي غوټه کړئ. ولي له یو ساعت څخه باید نوموړی کار زیات وخت په بر کي ونه نیسي یعني په اوبو کي پري نه ښودل شي.

۲.د کندې پراخوالی په اندازه د ۳۰ سانتي مترو او ژوروالی یي د ریښو د سیستم په اندازې سره کنده کړئ.

۳. په هره اندازې سره چي امکان ولري نو ماتي شوي ریښي او ښرانګي، هغه چي ضرر مندي شوي وي، مړي وي یاهم ناروغه وي باید لري کړی شي.

۴.د کندې په داخل کي په پیل کي یوه اندازه سطحي خاوره(چي د عضوي موادو لرونکی وي) ورته ځای ورکړئ او له دي وروسته ټوله کنده د خاوري پواسطه کومه چي له کندې څخه راویستل شوي ده،ډکه کړئ.

۵.نیالګې په همغې اندازې سره چي په قوریه کي کښت کړی شوی و خښ کړئ او هیڅ کله هم له هغې اندازې څخه یي ژور مه خښوئ.

۶. په حدود د دري پر څلور ۴/۳ برخي د کندي د هغې خاوري سره یوځای چي له کندې څخه راویستل شوی ده او همدارنګه له اوبو څخه ډکه کړئ او د لاس پواسطه ورته فشار ورکړئ.

۷. د حوض داخل له اوبو او سطحې خاوري څخه ډک کړئ ولي باید چي ورته فشار ورنه کول شي.

۸.د نیالګیو د حوض شاوخوا اصلاح کړئ او د ملچ او کود(سري) پواسطه یي ډک کړئ.

ج)وني باید په داسې ترتیب سره خښي کړل شي ترڅو چي ۵ سانتي متره د خاوري په داخل کي ژوري نسبت د هغه حالت ته چي په قوریه کي یي قرار درلود، خښي کړی شي.

۱.د مېو هغه وني چي د لوړ قد درلودونکي وي او پیوند شوي وي له مورنۍ پایي سره چي لنډ قد ولري باید په حدود د ۱۸-۲۵ سانتي مترو سره ژوري نسبت هغه حالت ته چي په داخل د قوریه کي یي درلود خښي کړل شي.

الف) په یاد باید ولرئ چي پیوندي قسمت یا برخه د میوې په هره یوه ونه کي په ځمکه باندې ساتل کیږي. ترڅو چي له سټېنډرډ جوانې یا تیغې وهلو څخه مخنیوی منځته راشي.

د) د هغې په اطراف کي سطحه د کاب(بشقاب) په ډول سره چي غاړي او ټیټه مرکزي برخه ولري، منځته راوړئ.

۱. دا شکل د یوه حوض په ډول سره د ونې داوبو کولو لپاره دنده په مخ وړي.

۲. دا حوض د ملچ په وسیله (د لرګی ټوټي، د ارۍ بور او یا هم د جوارو د لرګیو پواسطه) ډکیږي.

م) د ۰،۵ کیلو ګرامو کود(سري) تطبیق کول کومه چي مخلوطه وي د ۱۰-۱۰-۱۰ په ډول سره د هري یوې ونې لپاره ورکول کیږي.

۱. د کود(سري) شیندل په دایروي شکل سره په فاصله ۲/۱-۴/۱د مترو سره د ساقې په شاوخوا کې.

**( د پاورپواینټ ٤ شمیره سلاید)**

ن) د قورۍ په مرکزونو کې او د ونو (نیالګیو) په باغ یا بڼ کې معمولاً ونې په نسبي ډول سره غځېږي.

۱. هغوي په ترتیب سره په جوړه یي شکل سره د بجیو یا هم د کانتینرونو (ځانګړو لوښو کې) په داخل کې راټوکیږي.

۲. د ونو جوړه یي شکل کوم چي د بوجیو په داخل کې راټوکیدلي وي جلا کیږي او هغه ونې چي په کانتینرونو کې راټوکیدلي وي له کانتینرونو څخه لرې کیږي.

۳. له عین کړنې یا طرز العمل څخه چي د لوڅو ریښو لرونکو ونو کې ورڅخه کار اخستل کیږي، استفاده سرته رسیږي.

**د 4-1B-LSتوضیح او روښانه کول: د امکان په صورت کې زده کونکي دې ته متوجه کړئ چي د میوې یوه ونه خښه یا کښت کړي. که چیرې د میوې یوونه امکان ونه لري. نو زده کونکي دې ته متوجه کړئ چي له هغو ونو څخه لیدنه وکړئ کومې چي په دې اخرو کې خښې یا کښت کړل شوي دي. د یوه درست طرز العمل په برخه کې د یوې ونې د کښت یا کرنې لپاره وینا او بحث وکړئ. TM:B4-1څخه کار واخلئ ترڅو چي د زده کونکو له فهم څخه د لوڅو ریښو د ونو او د هغو ونو په منځ کې چي په جوړه یي شکل سره ترتیب شوي وي توپیر منځته راوړل شي او هغه ونې چي په بوجیو کې تولیدیږي له هغې څخه اطمنان حاصل کړئ.**

**دوهمه موخه یا هدف :** د هغه فعالیتونو یا کړنو تشریح کول چي په یوه باغ یا بڼ کې د میوو د ونو د څآرنې او ساتنې لپاره په کار وړل کیږي.

داموخه یا هدف د میوې د باغ یا بڼ عمومي ساتنه وړاندي کوي. ولي له بي (B) برخې څخه وروسته یو مکمل یا بشپړه برخه د میوو د ونو په ساتنه کې به وړاندې کړل شي چي هر یو له دې فعالیتونو څخه به په ژور ډول سره تر بحث لاندې ونیول شي.

**( د پاورپواینټ ۵ شمیره سلاید)**

**۲.**دمیوې د یوې ونې درسته ساتنه او همدارنګه د میوو د ټول یوه باغ درسته ساتنه ډیره مهمه ده. له دې کبله د میوې کیفیت او د عمر اوږدوالی یوه باغ یا بڼ ته قوت وربخښي. ډیر زیات فعالیتونه یا کړنې په کار اچول کیږي ترڅو چي په مناسب ډول سره د میوو یو باغ یا بڼ تر څارنې او ساتنې لاندې ونیول شي.

الف) د میوې د باغ ساتنه د ځوانو ونو څخه په ځانګړې سره پیل کیږي. ځوانې وني له هرزه یا بې کاره ګیاوو او ګراسونو سره سخت او ستونزمن رقابت د اوبو او غذایي موادو د اخستلو په برخه کي لري.

۱. هغه ساحه چي یو متر پراخوالی د ساقې په شاوخوا کي ټولو ساحو ته ولري باید چي کښت او ملچ کړل شي.

۲. او به ورکول کم ترکمه په لومړی کال کي ضروري او اړین وي ترڅو چي داوربښت د میزان تکمیل کونکی وي.

الف) اوبه کول په اونۍ کي یوې ځلي ضروري دي په هغه صورت کي چي د اوربښت میزان کم ترکمه ۳ سانتي متره په کال کي واقع شي.

ب) د بالغو ونو په ساتنه کي د کود(سري) ورکول، د آفاتونو کنترول، ړنګی کول او د ښاخونو پرې کول شامل دي.

ج) د کود(سري) تطبیق کول د پسرلی په پیل کي کله چي پنډکونه په پړسیدلو باندې پیل کول.

د) د کود(سري) خپرول په دایروي شکل سره چي له ۳۰ سانتي مترو فاصلې څخه له تنې نه پیل شوی او تر د ښاخونو د خپري شوی ساحې پوري پراخوالی پیداکوي.

۲. که چیري ونه په شدید یا سخت ډول سره تر ښاخ پري کونې لاندې نیول شوي وي. نو سره ورکول په همغې کال کي ورته کموالی ورکول کیري او یاهم هیڅ استفاده ورڅخه نه کیري.

الف) نایتروجن د هغې له ضروریاتو یا اړتیاوو څخه دی او په ډیري زیاتي اندازې سره ورته اړتیا یا ضرورت لري ولي باید په اختیاط سرهر تطبیق کړل شي.

ب) په زیات مقدار سره ورکول د نموی خصوصیت یا ځانګړنې(ساقو یا ښرانګو، پاڼو) د افراط او د ګل او میوي د کموالی سبب کیري.

په صورت کي چي د نایتروجن اندازه ډیره کمه شي، د ساقې یا ښرانګې رشد کمیري یا ورو کیري او کوچنۍ کیري او همدارنګه د هغه میوو د تولید سبب کیري چي کیفیت یي ټیټ وي.

ج) د خاوري د پتاشیم او فاسفورس سطحه په ورته ډول سره د باغ یا بڼ له ضروریاتو څخه دي چي په هغې کي پي ایچ pH په اندازه د۵،۶-۷،۰ سره سپاربښت شوی دی.

۱. امونیم نایتریت له نایتروجن لرونکو سرو څخه یو مناسب انتخاب یا ټاکنه ده. په هغ صورت کي چې د پتاشیم او فاسفورس سطحه په کافي اندازي سره شتون ولري.

۲. نایتروجن د ضرورت یا اړتیا د تشخیص کولو لپاره، د تیر کال د ساقې نمو باید اندازه کړل شي. دا اندازه کول د پسرلی په پیل کي مخکې د پنډکونو له خلاصیدو څخه سرته رسیري.

۳.د اخر کال نمو د شدید یا سخت رنګ لرونکی وي(روښانه سور یا زیړ) چي دا نمو د پنډک په داغ کي(پیچل شوی داغ چي وړوکی ښاخونه یي احاطه کړي وي) پیل شوی او تر د هغې له څوکې یا نوکې پوري دوام پیداکوي.

د) مڼه، آلو، زردالو او گيلاس ۰،۱-۰،۲۲ کيلو گرامو مخلوطي سري ته(لکه ۱۰-۱۰-۱۰) په هريو کال کي د ونې دعمر په اساس ضرورت يا اړتيا لري چي په اعظمي ډول سره دا اندازه د يوي وني لپاره ٤،٥ کيلو گرامه کيدلی شي.

۱.شفتالو او شليل۰،۲۲-۰،۵۰ کيلوگرامو سري ته په کال کي د ونې دعمر په اساس او تر اعظمي حد پوري ٤،٥ کيلو گرامو سري ته د يوي ونې لپاره ورته اړتيا ليدل کيږي.

ل)ناک په غير له سري ورکولو ښخه کولی شي چي په ښه ډول سره فعاليت سرته ورسوي. له دي کبله د تطبيق په صورت کي، تر اتشي بلايټ د ناروغی د خطر لاندې قرار نيسي.

۱. که چيرې هغې ته سره ورکوی نو د هغې اندازه ۰،۱ کيلو گرامو ته په کال کي د عمر په اساس او اعظمي حد د هغې تر ۱،۸ کيلو گرامو پوري په کال کي محدود کړئ.

۳. د ميوې له ونې ښخه د حاصل د کاميابه اخستلو لپاره د آفاتونو کنترول کول يو اساسي امر دی.

الف) د ميوې وني د حشراتو او ناروغيو د حملې د شدت له نظره او دوخت د اوږدوالی له مخې گل ورکول يا له غوټی کولو ښخه تر د حاصل اخستنې تر مرحلې پوري يو له بل ښخه توپير کوي.

ب)په کلي ډول سره گلونه او ميوي بايد د حشراتو او ناروغيو له حملې ښخه د سپري کولو له لاري د درملو د تطبيق له لاري کومي چي د آفاتونو او ناروغيو په ضد استعماليږي، د غوټی کولو له مرحلې ښخه تر د حاصل اخستلو پوري له هغوي ښخه ساتنه کوي.

ج) ښني له نوعو ښخه سپری کولو ته(تيل خوابيدن) د هغه خساراتو د مخنيوي لپاره چي د سوری کيدلو ښخه منښته راښي، ضرورت يا اړتيا لري.

***۴.ړنگي کول(thinning)*** د بد شکل، ناروغو او اضافي ميوو له جلا کولو او لري کولو ښخه عبارت دي چي د می او جون مياشتو د اواخرو په جريان کي، چي د هغې په نتيجه يا پايله کي غټي ميوي او هغه ميوي چي لوړ کيفيت لري په لاس راښي.

الف) هغه وني چي ميوي يي ړنگي شوي نه وي د توليد کونکو اندامونو د ماتيدلو سبب گرښي او د راتلونکی کال لپاره د هغه پنډکونو په شمير کي کموالی منښته راښي کومي چي ميوي توليدوي.

ب) په ښني واقعاتو کي وني له توليد يا بار کولو سره يو کال په منښ کي مخامخ کيږي.

**۵.ښاخ پري کول(pruning)** له يوه مهارت ښخه عبارت دی چي د ونو د ښاخ پري کولو په پوهې، تجربو او مشاهداتو يا کتنو ښخه چي د ښاخ پري کولو په پايله کي په لاس راښي. دي.

الف) ښاخ پري کول د زيات شمير موخو يا هدفونو لرونکي وي چي په لاندې ډول سره ښودل شوي دي.

۱.د ميوې جسامت او کيفيت ته بهبود ورکوي.

۲. د يوې وني قوي چوکاټ ته انکشاف ورکوي کوم چي د ميوو په بار کي ونه حمايه کوي، د ونې شکل ساتي او تر يوې اندازې پوري د وني جسامت د درملو د شيندلو او حاصل اخستلو لپاره زمينه برابروي.

۳.هغه وني چي ښاخونه يي پري کړی شوي نه دي نو د ميوي د توليد لپاره ميل يواښي په بيروني سمتونو کي او د ونې د ښوکي په قسمت کي چيرته چتي د لمر وړانگو ته لاسرسی شتون ولري، لري.

۴.د ونې داخلي برخه په قوي ډول سره پیچل شوی او پورته شوی چي سپری کول او د حاصل اخستل یي مشکل یا ستونزی سره مخامخ کوي.

ب) د ښاخ پري کولو مختلف روشونه او میتودونه چي په یوه باغ یا بڼ کي استعمالیري شتون لري. د دي میتودونو نومونه په دي ځآی کي بیان شوي دي او د هغوي د اجراکولو څرنګوالی په راتلونکی لوست کي تر بحث لاندې به ونیول شي.

۱.**د نور یا رڼا د تاب لپاره ښاخ پري کول** کیدلی شي چي د کال په هروخت کي سرته ورسیږي. ولي شدیده یا سخته ښاخ پري کوونه په یوه محدود وخت کي د ونو د استراحت د فصل په اخر وخت کي صورت نیسي. په اوړی کي د ښاخ پري کول په ونه باندې د رشد د کمیدلو تاثیر لري.

۲.**د لیډر په تغیر خوړلی شکل کي د ښاخ پري کولو سیستم( modified- leader pruning system)** یوه اصلي شاخه د لیډر(رهبري کونکی) تر عنوان لاندې منځته راغلی او له دریو څخه تر څلورو پوري اړخیزي شاخي چي ټولي له هغوي څخه د عین کړنې او ارزښت لرونکي وي، منځته راځي.

۱. مڼه، ناک، ګیلاس او خواږه ګیلاس د هغه ونو له جملې څخه دي چي د ښاخ پري کولو په دي سیستم کي له هغې څخه کار اخستل کیري.

۳.**دتش یا خالي مرکز د ښاخ پري کولو سیستم(Open-center(visa)pruning system)** دي ته اجازه ورکوي ترڅو چي نور او رڼا په مناسب صورت سره د ښاخونو داخلي میوو ته نفوذ وکړي. له دي کبله دا سیستم استعمالیري.

۴.**له نوکې څخه د قاعدې په لوری ښاخ پري کول(Heading back (tipping) prunning)** د جانبي یا اړخیزو ښاخونو رشد او نمو تشویق یا هڅوي.

*۶.* **د قاعدې له لوری څخه د ښاخ پري کول(Thinning-out pruning)** د ټولي یوې شاخې له منځه وړلو څخه عبارت دي، د یو ښاخ له لنډولو څخه عبارت دي، د نمو د اندازې کمولو یا جانبي روشونو د یوې شاخې څخه عبارت دي.

۱. د قاعدې د ښاخ پري کولو عمومي اثرات ډیر ښکاره او په اسانه توګه د یوي ونې په تنظیم باندې وي**.**

۲.کلنی ښاخ پري کول ددي لپاره چي له ونو څخه خارنه او ساتنه وشي او ونې په درست ډول سره میوي تولید کړي او د ونو بې له حده غځیدنې څخه مخنیوی وشي او هم له زیات تراکم څخه مخنیوی وشي نو د ونو لپاره د ښاخونو پري کولو یو ضروري امر دی.

۷.**سکر یا واتر سپروس(Suckers or watersprouts)** له هوایي څوانې د چټکي نمو کونکی جوانې یا تیغي څخه عبارت دی چي له ریښو، تنې اویا هم محوري ښاخونو څخه نمو کوي.

الف) هغوي په مستقیمه توګه پورته لوری ته نمو کوي او هر وخت چي هغوي تشکیل کیري باید له منځه یوړل شي او لری کړی شي.

***۶.*** **د میوې ورکولو عادت (Fruit habit)** له هغه موقیعت څخه عبارت دی چي میوي په هغې کې تولید کیري. میوي په جانبي صورت سره د یو کلنو پخو ورو ښاخونو په دوام او یا هم د سپر د پاسه(وړوکی ښاخونه) د میوې تولید چي په زړو لرګیو باندې منځته راځي، تولیدیري.

الف) هرکله چي ښاخ پري کول سرته رسيږي دا موضوع په ياد ولرئ چي ميوه په کومو قسمتونو يا برخو کي توليديږي.
ب)منې او ناکونه د خپلو ميوو لوي برخي د شاخچو په جانبونو يا اړخونو کي او يا هم په سپرونو باندې چي لرګی يي دوه کلن او يا هم له دي څخه زيات وي توليديږي.
**يو تن له زراعينو څخه ستاسې ټولګی ته دعوت کړئ ترڅو چې د خپلو ونو د ښاخونو د پري کولو او کښت د څرنګوالی په برخه کي د زده کونکو لپاره معلومات وړاندي او ارايه کړي.**

**مرور(بياکتنه)\خلاصه يا لنډيز:** د زده کونکو د زده کړي موخي يا هدفونه په کار يوسئ او درس يا لوست خلاصه(لنډيز) کړئ. زده کونکي پريږدئ او ورته وخت ورکړئ چي د هريو هدف يا موخې د په لاس راوړنې لپاره چي کومي ستونزي يا مشکلات وړانديز شوي دي هغوي ته راجع ځواب ورکړي او موخې يا هدفونه توضيح او روښانه کړي. د زده کونکو ځوابونه دا مشخص يا څانګړي کوي چي کوم يو له موخو يا هدفونو څخه تکرار يا تجديد نظر ته اړتيا لري ترڅو چي تکرار کړل شي او يا له متفاوتي زاوي څخه تر بحث لاندې ونيول شي. هغه سوالونه يا پوښتني چي د پاورپواينټ په ۳۲ شميره سلايد کي شتون لري کيدلی شي چي په ټولګی کي نمونې په توګه تکرار کړل شي.
**تطبيق :** زده کونکي په دې باندې پوه کړئ چي ترڅو له يوه باغ څخه چي تر کار لاندې وي ليدنه وکړي او د امکان په صورت کي د کښت کولو فعاليتونه او د ښاخ پري کولو فعاليتونه تمرين کړي. زده کونکي په دي باندې پوه او خبر کړئ ترڅو چي د دې باغ يا بڼ مديريت يا منجمنټ تجزيه او تحليل کړي او د هغوي نظر ته بايد د هغو مسايلو په برخه ګي فکر کوي بايد بهبود ورکول شي او بايد چي انکشاف ورته ورکول شي، وړاندې کړئ.

**ارزيابی:** ارزيابي بايد د زده کونکو د لوست يا درس په هغه موخو يا هدفونو باندې متمرکزه وي کومي چي زده کونکو په لاس راوړي دي. يو په ليکنې بڼه باندې امتحان يا ازموينه په نمونه يي صورت سره له دي لوست يا درس سره ضميمه شوي ده.

**نمونه ئي امتحان ته ځوابونه:**
**مطابقت يا اړيکه ورکول**
1.
2.
3.
4.
5.
6.

**۱.** د هغو ونو په منځ کي توپير کول چي په بوجيو کي ورته ځاى ورکول شوي، د کانتينر په داخل کي وي او ريښي يي لوڅي وي څه دى؟ وني په جوړه يي شکل سره د بوجيو په داخل کي کښت کړل کيږي، د لوڅو ريښو لرونکي وي چي د اصلي خاوري سره يوځاى(چي لاس پري نه وي لړيدلى) خپله يي په بوجيو کي تاوي کړي وي او په بوجيو کي کښت او کرل کيږي. هغه وني چي د کانتينر په داخل کي ځاى لري له کښت کولو څخه دمخه(خښول) بايد د هغوي کانتينر لرى کړى شي.

هغه وني چي ريښي يي لوڅي وي عموماً د وړوکى جسامت(په حدود د يو متر) لرونکي دي او کولى شي د پيټ خاوري(هغه خاوره چي عضوي مواد ولري) په داخل کي چي مرطوبه وي بسته بندي کړل شي.

**۲.** دا تشريح کړئ چي په څه ډول سره يوه ونه(نيالګى) چي لوڅي ريښي ولري کښت يا کرل کيږي؟ ځواب شايد چي ډير زيات وي، اما زده کونکي بايد عمده مراحل يا قدمونه د هغوي له مهمو توضيحاتو سره ياداشت کړي. د يوه نيالګى د کښت لپاره چي ريښي يي لوڅي وي په پيل کي يوه کنده چي په کافي اندازې سره غټه وي ژوريږي ترڅو چي ريښي د هغې په داخل کي په بشپړ ډول سره خپري شي. نيالګى ته د کندې په داخل کي ځاى ورکړئ، سطحي خاوره د نيالګې په شاوخوا کي واچوئ، کنده تر نيمايي پوري ډکه کړئ، او ورته فشار ورکړئ ترڅو چي يوه اندازه تخته کړل شي. له دي نه وروسته پري اوبه واچوئ. د کندې نيمايي پاتي شوى برخه د خاوري پواسطه ډکه کړئ او له دي نه وروسته ورته فشار ورکړئ او اوبه پري واچوئ. همدارنګه د لګن يا قاب په ډول سره يو وړوکى حوض د هغې په شاوخوا کي منځته راوړئ او د ملچ پواسطه يي و پوښئ.

**د يوې ونې (نيالګى) خښول چي لوڅي ريښي ولري** LS:B4-1

لازم او ضروري يا اړين مواد

داسې يو نيالګى چي ريښئ يي لوڅي وي

عادى بيل يا بيلچه چي د دايروي نوکي لرونکى وي

غټ سطل

د لرګى يو متر مربع تخته، ترپال او يا هم کمپله

د لرګى بوړ او يا هم د لرګى ټوټي د ملچ کولو لپاره

**طرز العمل(کړنلاره)**:

1. کنده کم ترکمه په اندازه د ۲/۱متر پراخوالى سره د ريښو د خپوروالى پوري ژوره کړئ.
2. خاوره د لرګى د تختې يا هم په ترپال او يا په کمپله باندې واچوئ ترڅو چي هغه له چمن څخه خارج وساتل شي. کنده بايد په کافي اندازې سره پراخه او ژوره وي ترڅو چي د ونې ريښي په بشپړ ډول سره په هغې کي پټي کړل شي.
3. په هرې اندازې سره چي ممکنه وي متضرره شوي ريښي مخکې له خښولو څخه له نيالګې بايد پري کړى شي.
4. د شګلنو خاورو لپاره ۲/۱ نه تر ۳/۲ برخې له موجوده خاوري څخه په ساحه کي د۲/۱ نه تر ۳/۱ پوري له عضوي خاورو څخه مخلوط کړئ. د عضوي خاورو علاوه کول له شګلنو خاورو سره دا مرسته او کومک کوي ترڅو چي رطوبت او غذايي مواد په خپل ځان کي وساتي. د کلى خاورو لپاره ۳/۱برخه له موجوده خاوري څخه په ساحه کي له۳/۱ برخې عضوي خآوري سره او ۳/۱برخې ځيري شګې سره مخلوط کړئ. ترڅو چي د نم ويستنې لپاره يو مناسب سيستم د کندې په لاندې برخه کي د نيالګې لپاره جوړ کړل شي.

که چیري د ساحې خاوره مناسبه وي یعني سطحي خاوره د لوم له نوعې څخه وي په دي صورت کي د عضوي خاوري پواسطه د اصلاح کولو یا هم د شګې پواسطه د اصلاح کولو لپاره ضرورت یا اړتیا نه لیدل کیږي .

5. یو د تېپ په ډول سره شکل د نیالګې د کندې په ښکتنۍ برخه کي جوړ کړئ. دا کار ددي سبب کیږي چي د ریښي سیستم سره مرسته وکړي.
6. د نیالګې د کښت یا کرنې کنده تر د نیمايي اندازې پوري له خاوري څخه ډکه کړئ، اچول شوی خاوره په کنده کي ورته فشار ورکړئ ترڅو چي د هوا لوي خالیګاوي له منځه لاړي شي.
7. د نیالګې کنده تر د هغې د خولې یا سطحې پوري د اوبو پواسطه ډکه کړئ. له دي سره په عین وخت کي منحل شوی سره یا کود چي په زیاتي اندازې سره فاسفورس($P_2O_5$) ولري او د نایتروجن کمه اندازه ولري تر استفادي لاندې ونیسئ. ترڅو چي د نویو ریښو انکشاف کول تحریک کړي. د اوبو نفوذ د کندې دیوالونو کي د اوبو داخلیدو ته اجازه ورکوي او د کندي ډکول د خاوري پواسطه دوامدراه وساتئ.
8. د نیالګی کنده د هغې تر طبیعي او اصلي اندازې پوري ډکه کړئ له دي نه وروسته ورته فشار ورکړئ ترڅو چي د هغې د هوا خلاوي یا تشي له منځه لاړي شي.
9. د قاب یا لګن په شان یوه سطحه چي د غاړو لرونکي وي د کمر بند په شکل سره په اندازه د ۱۵ سانتي مترو سره وي د وني د تنې په شاوخواو کي منځته راوړئ.
10. دا قاب ډوله سطحه د لرګی د ټوټو او یا هم د ونو د پوستکي د ملچ پواسطه ډکه کړئ.

**TM:B4-1**

# د لوڅو ریښو لرونکو ونو(نیالګیو) کښت کول




**نوم:______________** **نمونه يي امتحان يا ازموينه**

---

**امتحان(ازموينه)**

---

**(B) برخه څلورم لوست يا درس: د ميوو د ونو کښت او ساتنه يا حفاظت.**

**لومړی قسمت: مطابقت يا اړيکه ورکول.**

**رهنمايی(لارښوونه):** اصطلاحاتو ته د درست ځواب سره اړيکه ورکړئ. مربوطه توری يا حرف د اصطلاح د تعريف په مخکې نوشته کړئ.

الف) د ځمکې لاندې ښاخ چي له ساقې يا ښرانګې يا هم له ريښې څخه نمو يا وده کوي (suckers or watersprouts)

ب ) د ليډر تغير خوړلی سيستم د ښاخ پري کونې په برخه کي (modified –leader pruning system)

ج ) د ميوې ړنګی کول(Fruit thinning)

د ) له څوکې يا نوکې څخه د قاعدې په لوري د ښاخونو پري کول (Heading back (tipping) pruning )

م) د ميوې نيولو يامیوې کولو خاصيت (څانګړتيا) (fruiting habit)

و)   د قاعدې له لورى يا سمت څخه د ښاخ پري کول ( thinning- out prunning)

______1. د بد شکل، ناروغو او اضافي ميوو له جلا کولو او لرې کولو څخه عبارت دي چې د مى او جون مياشتو د اواخرو په جريان کې، چې د هغې په نتيجه يا پايله کې غټې ميوې او هغه ميوې چې لوړ کيفيت لري په لاس راځي.

______2.د ځوانو ساقو چټکه تګلاره چې له ريښو، تنې او محوري ښاخونو څخه نمو کوي.

______3. د اطرافي ښاخونو نمو تشويق او هڅوي.

______4.يوه رهبري کونکى اصلي شاخه او له دريو نه تر څلورو پورې جانبي ښاخونه د هغې له يو شانته اهميت څخه لرونکي دي، تشکيل کيږي.

______5. هغه ځاى يا موقيعت چې په هغې کې ميوه منځته راځي.

_____6.د يو ښاخ په مکمل ډول سره له منځه وړل، د ښاخونو کوچنى کول او د جانبي ښاخونو شمير ته کموالى ورکول دي.

**دوهم قسمت يا برخه:** لنډ ځوابونه
رهنمايى(لارښوونه): له اماده شوى خاليګاه يا تش ځاى څخه د لاندې سوالونو د ځوابونو لپاره استفاده وکړئ .

1. د هغو ونو په منځ کې توپير چې د بوجيو په داخل کې په جوړه يي شکل سره راټوکيږي، او هغه وني چې د کانتينر په داخل کې راټوکيږي او د لوڅو ريښو لرونکو ونو په منځ کې توپير څه دى؟
2. د لوڅو ريښو لرونکو نيالګيو د کښت يا کرنې څرنګوالى تشريح او روښانه کړئ.